


## د (RTDMS) یا رییل ټایم پروژې کاري راپور:

د رییل ټایم ریاست چارواکې وایي، تر دې مهاله یې له لس سلنه مخابراتي مالیې څخه ۱۸ ملیارد افغانۍ مخابراتي محصولات راټول کړي.

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت، رییل ټایم یا (RTDMS) څانګې رییس محمد همایون غفوري وایي، په ۱۳۹۸ هجري کال کې دغه ریاست وکولای شول، پنځه مخابراتي شرکتونه له رییل ټایم سیستم سره وتړي.

د ښاغلي غفوري په وینا، شپږ شرکتونه (افغان تلیکام، اتصالات، روشن، افغان بیسیم او ام ټي ان) هغه مخابراتي شبکې دي، چې د مخابراتو وزارت مشرتابه پرلپسې هڅو له امله د نوري فایبر له لارې له سیستم سره تړل شوې دي.



ښاغلی غفوري وايي، له ۱۳۹۴ هجري کال را پدېخوا دغه رياست توانېدلی له لس سلنه مخابراتي ماليې څخه تر دم ګړی پورې، شاوخوا ۱۸ مليارده افغانی، د مخابراتي محصولاتو له لارې د دولت خزانې ته راټولې کړي.

رييل ټايم پروژه، چې د مخابراتي شرکتونو له کړنو د څار، حکومتي عوايدو سطې لوړولو او لس سلنه مخابراتي ماليه کې د روڼتيا په موخه رامېنځته شوه، په دې وروستيو کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت مشرتابه له پرلپسې هڅو سره بالاخره بشپړېدو ته نېږدې شوې ده.

د رييل ټايم پروژې رييس محمد همايون غفوري ټينګار کوي، له دغه سيستم سره د مخابراتي شرکتونو نښلول ستره لاسته راوړنه ده.

د نوموړي په وينا: « له سيستم سره د ټولو خصوصي او دولتي مخابراتي شرکتونو له تړل کېدو وروسته به د دغه سيستم چمتو شوی دش بورد، په ژوندۍ بڼه د لس سلنه مخابراتي ماليې په برخه کې له روڼتيا څخه ډاډ راکوي«.

په مخابراتي محصولاتو کې د روڼتيا په پار رامېنځته شوی ميکانيزم، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت مشرتابه له لومړنيو ژمنو څخه وه، چې د دغه سيستم د مسوولينو په وينا تر ډېره بريده دا چاره بشپړه شوې ده.

همايون غفوري، د رييل ټايم پروژې ډيزاين بشپړېدل، تر لاسه کول، د ډاټاسنټر او سټورج جوړېدل، پاور بک اپ، د سيسټم لومړنی او دوهمې برخې وسايلو تر لاسه کول، د سافټ وير بشپړېدل، د مايکر له پاره جواز اخيستل، د فايبر او انټرنيټ له لارې له مخابراتي شرکتونو سره د دغه سيستم نښلول د رييل ټايم پروژې نورې لاسته راوړنې يادوي.

د هغه په وينا: « د رييل ټايم پروژې بشپړولو او نښلوولو له پاره زمونږ پر وړاندې ستره ننګونه د مخابراتي شرکتونو راضي کول يا هغوئ ته قناعت ورکولو وو، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د پرلپسې هڅو له امله مونږ بالاخره وتوانيدو په افغانستان کې ټولې مخابراتي شبکې له دغه سيستم سره ونښلوو«.